



د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي  او نشراتي ارګان  ته  ښه راغلاست!





# عبدالحفيظ « مليار ـ ساپی »



د نشرنيټه :  9  جنوری 2024 ميلادی


# افغان يمه!

زه خو زيږيدلی له فطرت ازاد انسان يمه
افغان يمه
زه دازادي دتاريخونو لوی داستان يمه
افغان يمه
ما دننګ ميدان کې هر غليم راپرزولو دی
ما په هر سنګر کې خپل بيرغ لوړ رپولی دی
تاټوبی دملالې يم ، تپه دياقربا يمه
افغان يمه
ماته مي ملی هويت ميراث له پلار نيکو پاتي
وينه دغيرت مي تر ابده په رګو پاتي
توره دخوشال يمه، شمله د ميرويس خان يمه
افغان يمه
دلته معدنونه دی، کانونه دی، سيندونه دی
دلته زمرد دي او ياقوت دی ،هسک هسک غرونه دی
بل ته احتياج نه لرم ، دخپل وجود کې خان يمه
افغان يمه
روح مي دی ،بدن مي دی، وطن مي دی ،ختن مي دی
ژوند مي دی ،عزت مي دی،ګلبڼ مي دی،مدفن مي دی
قلب داسيا يم او هسک بام دټول جهان يمه
افغان يمه
دلته هر ،تاجک ازبک ، پښتون دبڼ ګلونه دي
دلته هزاره که پشيي دي لکه ورونه دي
فخر کړم مليار چې زه دلوی افغانستان يمه
افغان يمه
عبدالحفيظ « مليار »


بازګشت به صفحه اصلی  -  www.said-afghani.org